AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۴/۰۴/۳۰

# د پوهنتون خاطرې

## (۱۲)




تاسو به ځینې مسافر لیدلي وي چې هغه ټپې او سندرې ډېرې اوري چې د جلا وطنی په اړه وي. فکر کوي ویناوال یې همدوی یادوي او د همدوی دردونه بیانوي. په دې سره داسې ګڼي چې ګوندې خواخوږی یې پیدا کړی. دغه شان ټپو او سندرو ته ژاړي او دردونه په ژړا څه ناڅه تکور مومي.

جلا وطني د هغو زړونه ډېر نازکه کوي چې وطن ورته ګران وي؛ خصوصا کله چې بیا دا جلا وطني د مجبوریت له مخې رامنځ ته شوې وي .غوږ شئ؛ د یو مسافر د خولې چیغې ته:

"مساپرۍ مې زړه نرۍ کړ
چې تش وطن را یادوم ژړا راځینه"

په جلا وطنی کې د وطن یادونه دومره په ذهن هجوم راوړي او دومره په زړه کې ناست وي چې معمولي وطن ته د مشابه شي په لیدلو هم د زړه سترګو ته خپل وطن مجسم کېږي. دا یو عجیب کیفیت وي چې چاته په یوه عادي ورته والي هغه څوک/شی، ژر ور یاد شي چې د زړه پر تخت یې ناست وي؛ دغه کیفیت اباسین یوسفزي په یو بیت کې ښه بیان کړی:

"هر یو سیورۍ راته ستا په شانتې ښکاري
د سپوږمۍ شپه مې په دې چل کې تیریږي"

ما چې به د کډوالی په مهال چیرته ویاله ولیده؛ څنګه ته به یې غلی ودریدم، تر ډیره به مې ورکتلې. ماته به د خپل باغ د ویالي په څیر ښکاریده چې کوچینوالي کې به مې پایڅې بډ وهلې وې او ښکته او پورته به مې پکې منډې وهلې، آن هغه د اوبو شرپا به مې هم د زړه په غوږونو اوریده، سترګې به مې را ډنډ شوې او زړه به مې نرۍ نرۍ څړیکې وکړې.

یو وخت مې له پېښور راډیو د ماه جبین قزلباش په غږ کې یوه سندره اوریدلې وه. دا سندره مې دومره د زړه ژورو ته ښکته شوې وه چې بیرته ترې د راوتلو لاره ورکه وه او یا به یې د حمزه بابا په وینا زما د زړه کلی خوښ شوی و او بیرته وتلو ته به یې شوق نه کیده :


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**"ستا د نظر غشی مې په زړه ولګید ودرید**
**خوښ یې شو دا کلی، ګني بیرته ترې وتلی شو"**

د ماه جبین قزلباش سندرې هم زما د زړه کلی خوښ شوی و او همله تاویده را تاویده. هغه سندره دغه وه :

**"آه سپرلی مې د خزان په ناتار تېر شو**
**ما لا ګل بوی کړی نه و، بهار تیر شو**
**لا مخ پټې غوټۍ نه وې تازه شوې**
**چې بیا دور نیمه خوا د ګلزار تېر شو**
**..."**

له دې سره به مې زړه راډک شو. ما به ویل که زموږ د باغ په وروستۍ برخه کې ولاړ رامبیل او چامبیل ښیي. ما به ویل که همدا ما ښیي چې څنګه یې راځني هر څه پاتې کړل او سپیرو بادونو لکه د دیوانو منګولې له خپل باغ ارمه را پورته کړم او آن د هرپیور په خړ کیمپ کې یې را ګوزار کړم .

د ارواښادې قزلباش په غږ کې دا کلام ډیر خوږ لګیده؛ خوږوالی یې په درد کې و او زه هم جلا وطنی په واړه ځان ښه سم دردمند کړی وم. د دې کلام وروستي بیت خو بیخي، بې حاله کولم:

**"یوه ورځ به دې غږ وشي علي خانه**
**چې فلانی هم لکه ګرد او غبار تېر شو"**

ځان سره به مې ویل: دا لکه چې همدا ما ښیي. په خپل کیمپ کې د جوماتونو له لاوډ سپیکرونو د جنازو اعلانونونه به را یاد شول. ما به ویل یوه ورځ به له همدې لاوډ سپیکرونو زما نوم هم واوریدل شي . بیا به مې کیمپ کې د خپلو کډوالو هدیرې ذهن ته راغلې چې د وطن د بیا لیدلو له ارمانونو ډک زړونه مهاجر پکې پراته ول. له ځان سره به مې ویل: زه به هم د همدې هدیرې غړی شم. د وطن د مور له غیږې به ډیر لرې ښخ شم او څوک به مې قبر هم نه پیژني. دې وسوسو به زړه را نرې کړ او کله خو به خبره آن تر سلګیو ورسیده .

د پوهنتون دوره کې پوه شوم چې دا کلام د صاحب دیوان شاعر علي خان بابا دی او دا یې د خپل ځوانیمرګ خوریي په ویر کې ویلی و. د علي خان بابا دیوان ته مې سودا شوه .خیبر بازار ته لاړم او هلته مې واخیست. د کتاب پښتی په ژیړ رنګ کې وه. له ماښام لمانځه وروسته مې پرانیست، د ډوډۍ او ماسخوتن جمعې له وقفې وروسته بیا ورته کیناستم او بیا مې تر هغې سترګې پټې نشوې چې اخري پاڼه مې هم ورته نه وه، خلاصه کړې .

په دې دیوان مرحوم پروفیسر تقویم الحق کاکاخیل یوه ډیره اوږده او غوښنه سریزه لیکلې وه. د علي خان بابا ژوند او د هغه شاعرې یې ښه په جزیاتو سپړلې وه. ځینې لغاتونه او مشکل عبارتونه یې هم تشریح کړي ول. خو بیا هم داسې لغاتونه پکې له مانا کولو پاتې ول چې درک یې زما له قاصر ذهنه لوړ و .

یوه ورځ مې صنف کې ورته وویل: کاکاخیل صیب، د علي خان بابا په دیوان دې ډیره خواري کړې؛ خو ډیر لغاتونه دې پرته له مانا کولو پرې ایښې او همداسې غلی ترې تیر شوی یې! هغه، د خپل عادت له مخې موسک شو او بیا یې ویل: په دې کتاب چې ما کار کاوه، نو زه شیږ ویشت کلن زلمی وم، تاسې غوندې تنبل نه وم، کوم لفظونه چې تاته لغتونه ښکاري، ماته ساده کلمې ښکاریدې! او له دې سره موږ دواړو وخندل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولــئ